DAILY
اراده

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

۱۱۲۹

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER
A.M.R.C

PROPERTY OF ACKU

یوولسم کال – دویمه دوره، ۱۱۲۹ مه گڼه، پرله پسې ۲۲۰۳ گڼه د ۱۳۹۰ل.د وږي ۲۹ مه – دسې شنبې ورځ، د ۱۴۳۲ هق شوال المکرم ۲۲ مه د ۲۰۱۱ دسپتمبر ۲۰مه

آیا رییس جمهور از واشنگتن با دست پر برخواهد گشت؟

رییس جمهور حامد کرزی، دیروز به منظور اشتراک در شصت و ششمین اجلاس مجمع عمومی سازمان ملل متحد، کابل را به قصد شهر نیویارک امریکا ترک نمود. این در حالی است که در این اواخر روابط واشنگتن – کابل روی برخی موضوعات کمرنگ می نماید.

در خبرنامه یی که از سوی دفتر مطبوعاتی ریاست جمهوری به رسانه ها مواصلت کرده، آمده است که رییس جمهور کرزی، فردا (۳۰ سنبله) در اجلاس مجمع عمومی سازمان ملل متحد در مورد مسایل مهم افغانستان ص۳

DW

اعلان

دویچه ویلي المان ږغ راډیو د واوره اوزده کړه راډیویي ډرامو دپاره په پښتو او دري ژبو ممثلینو ته اړتیا لري.

د "واوره او زده کړه" خپرونه د آلمان ږغ، د راډیویي ډرامو لړۍ ده چې د بشري حقونو، چاپیریال ساتني، کورني تاوتریخوالي او د ژوند د نورو اړخونو د ښه کولو په اړه د ځوانانو لپاره چمتو کیږي.

دویچه ویلي المان ږغ راډیو ددې ډرامو د ۲۰۰ برخو د جوړولو د پاره په دواړو ژبو پښتو او دري د ۱۲ څخه تر ۷۰ کلنۍ پورې ښځینه او نارینوو ممثلینو ته اړتیا لري.

نور معلومات په دغو انټرنیتي پاڼو کې ترلاسه کولای سئ.

www.dw.de/pashto

facebook.de/dw.pashto

د دویچه ویله آلمان ږغ راډیویي خپروني هره ورځ د FM پر څپه ۵،۹۰ په کابل او لنډو څپو په ټول افغانستان کې اوریدلای سئ.

له واحد ← افغانی
ته بدلون مومو!

افغان بیسیم
د افغانستان نبلوونکی
Afghan Wireless
Connecting Afghanistan
Simply

د پیرودونکو د خدماتو له څانګې سره اړیکې ونیسئ: ۱۵۳

www.afghan-wireless.com

د ناټو ځواکونو له خوا د شپې عملیات او د نړیوالې ټولنې اندېښنې!

په کابل کې یوه نړیوال او داخلي سازمان په ګډه پر نړیوالو ځواکونو غږ کړی، چې د شپې عملیاتو مخنیوی وکړي، ځکه چې د دوی په وینا ملکي خلکو ته په کې د سر او مال زیان رسېږي.

د او اس اف یا پرانیستې ټولنې او د اریکو دفتر په نامه د دغو سازمانونو په ګډ راپور کې د دغو عملیاتو پر ځای د بدیلو لارو چارو د موندلو لپاره یې غږ شوی دی.

په دې راپور کې راغلي، چې د ناټو ځواکونو له خوا د شپې عملیات په تېرو دوو کلونو کې څلور تر پنځو برابرو ډېر شوي دي او اټکل کېږي، چې هره شپه په منځنۍ توګه نولس دارنګه عملیات ترسره کېږي.

د او اس اف یا پرانیستې ټولنې د پروګرامونو مسوولې ایریکا ګاستن په کابل کې خبریالانو ته د دغه راپور په اړه په څرګندونو کې وویل؛ د شپې عملیات له ډېرې مودې راهیسې ملکي خلکو ته د سر و مال د زیان او د هغوی د نیونې سبب شوي چې باید پر ځای یې بدیلې لارې ولټول شي: "نړیوالو ځواکونو په بیا بیا ویلي، چې موږ د یاغیانو د حملو د مخنیوي لپاره د شپې عملیاتو ته اړتیا لرو. دوی استدلال کوي، چې دا عملیات ډېر مهم دي او په ورځ کې د یو چا نیول ستونزمن وي. په ځینو مواردو کې ښايي دا خبره سمه وي، خو نه په ټولو مواردو کې.

د افغانستان حکومت هم هره ورځ په کامیابۍ سره مشکوک کسان نیسي. د شپې په ډېرو مواردو کې موږ ارزیابي کړې، چې ډېرې نورې لارې هم شته چې کسان پرې نیول کېدای شي."

نوموړې وویل، دوی خپل راپور په کابل، ننګرهار، کونړ، لغمان، کندهار، خوست، پکتیا او کندوز ولایتونو کې له اویا کورنیو او قومي مشرانو سره د مرکو په اساس برابر کړی دی.

د ګاستن په وینا، د دوی نظر پوښتنو ښودلې چې ناټو ځواکونه په یوه کور د شپې په عملیاتو کې له پټ شوي وسلوال مخالف سره د کورنۍ نور غړي هم نیسي.

د هغې په وینا په دارنګه عملیاتو کې ملکي خلک له یوه وسلوال مخالف سره حتا د قبیلوي او یا هم کورنیو اړیکو له امله په ساده تماس هم نیول کېږي.

نوموړې ټینګار وکړ، چې وسلوالو مخالفینو ته په ډوډۍ او پناه ورکولو سره د نړیوالو قوانینو له مخې یو کس ملکي پاتې کېږي، ځکه چې په افغانستان کې اکثره خلک له مجبوریته له مخالفینو سره دارنګه مرستې کوي.

په خبري کنفرانس کې د خوست ولایت د متون د سیمې یوه اوسیدونکې دیرش کلن همایون هم خبرې وکړې او دا کیسه یې وکړه، چې څرنګه یې د کورنۍ دوه غړي څو میاشتې مخکې د اوبو لګولو په وخت د ناټو ځواکونو د شپې په یوې حملې کې ووژل شول: "بهرنیو عسکرو زما په ورور ډزې وکړې، هغه یې وواژه، په دوولسم ټولګي کې، بل ورور مې پروت وکړ او هغه یې ونیوه. په کور کې مې پلار او مور اندېښمن شول، چې د باندې ووتل نو زما په پلار یې هم ډزې وکړې او ویې واژه

۳مخ

د لوی او بښونکي خدای (ج) په نامه

سرمقاله

د اسلام آباد او واشنګټن ترمنځ د اړیکو وروستی کړکیچ او د حقاني شبکې برخلیک

د اسلام او واشنګټن اړیکو په دې شپو ورځو کې خپله رنګیني له لاسه ورکړې. په اړیکو کې دا کړکیچ هغه مهال رامنځ ته شو، چې د امریکا د څارګرې ادارې سي. آي. اې. یو مامور ریمنډیوس دوه پاکستانیان په لاهور ښار د خپلې تومانچې د ډزو هدف وګرځول او دواړه یې ځای پر ځای ووژل. پاکستان دولت د امریکا د استخباراتو دغه مامور ونیوه، خو تر ورځو ورځو دیپلوماټیکو هلوځلو وروسته دغه لانجه ظاهرا د پاکستاني مقتولو کورنیو د خولکو ډالرو په ورکړې پای ته ورسېده. د دغې لانجې سترتیالا نه وه دمه شوې، چې پاکستان پر یو بل جال واوښت، داځلې د امریکا د څارګرې ادارې لومړي مطلوب کس اسامه بن لادن، چې امریکایانو یې په تېرو لسو کلونو کې ټول پل پل کړي او په تېرو وختونو کې پاکستانیانو په وار وار دا خبره رد کړې وه، دوی دا دښمن دي، چې نوموړی په پاکستان کې نه شته، بلکې د افغانستان په سرحدي سیمو کې پټ دي، د پاکستان پلازمېنې ته څېرمه یوې پوځي اډې ته نژدې، د امریکا د ځانګړو ځواکونو د عملیاتو ښکار شو. د دې خبرې، پاکستان ټولو نړیوالو ته یوه روپۍ کړ او امریکا ته هم پلمه په لاس ورغله، چې خپل د باوونه پر اسلام اباد لا جدي کړي. د اسامه بن لادن د وژنې په تړاو د دواړو هېوادونو په اړیکو کې د رامنځ ته شوي کړکیچ ناوړې اغېزې لا نه وې ختمې، چې د څو تنو ځانمرګو له خوا په کابل ښار کې د امریکا پر سفارت او څو نورو اهدافو بریدونه ترسره شول. له دغو بریدونو سره جوخت، د امریکا د بهرنیو چارو وزیرې هیلري کلنټن وویل، چې دغه برید د حقاني شبکې له خوا ترسره شوی، او دغه شبکه په پاکستان کې پیاوړي مرکزونه لري. په سبا ورځ یې د امریکا دفاع وزیر پانیتا د یوې خبري کنفرانس په ترڅ کې څرګنده کړه، چې پرونی بریدونه، د حقاني شبکې کار و، حقاني په پاکستان کې مېشت دي او امریکا په افغانستان کې د خپلو سرتېرو د دفاع په خاطر، هر هغه څه ترسره کړي، چې اړین وي. تر دغو خبرداریو وروسته، د حقاني شبکې مشر سراج الدین حقاني له رویترز سره په یوه بیړنۍ مرکه کې، څرګنده کړه، چې که طالبان سوله وکړي، حقاني هم چمتو دی، چې سولې ته غاړه کېږدي، هغه همدا راز جوته کړه، چې حقاني شبکه په پاکستان نه بلکې په افغانستان کې مرکزونه لري او له همدې ځایه خپل فعالیتونه سنبالوي. د حقاني شبکې پر سر لانجه، د پاکستان او امریکا د وروستیو اړیکو په لړ کې یو نوی پېر ګڼل کېږي. دغه لانجه چې په دې وروستیو ورځو شپو کې تر بل هر وخت، جدي ښکاري. دمګړۍ له سپینې ماڼۍ څخه نیولې بیا په افغانستان او پاکستان کې د امریکا په سفارتونو کې ټول په یوه خوله دغه خبره ګردانوي، چې په کابل کې وروستي بریدونه د حقاني شبکې کار و او د پاکستان څارګره د دغې شبکې فعاله ملاتړې ده. دغه خبرې او څرګندونې دومره جدي ښکاري، چې د پاکستان د بهرنیو چارو وزیره حنا رباني یې دې اړه کړه، چې واشنګټن ته ناڅاپي سفر وکړي او هلته هم د امریکا د بهرنیو چارو وزیرې هیلري کلنټن سره د درې نیمو ساعتو لېدنې کتنې په بهیر کې هم همدغه ګواښ ډوله خبرې تکرار پدلې، چې په پایله کې کلنټن د پاکستان د بهرنیو چارو له وزیرې په کلکه غوښتنه وکړه، چې د امریکا همدا یوه خبره ده، حقاني شبکه په پاکستان کې ده، او پاکستان یې باید پر وړاندې کوټلي، اغېزمن او بېړني ګامونه پورته کړي، که نه امریکایان به هغه کار وکړي، چې په دې اړه لازم وي.

په هر صورت د حقاني شبکه د پاکستان له مهمو مهرو څخه ګڼل کېږي، دا چې د واشنګټن او اسلام آباد په اړیکو کې د حاکم خرپړ چاپېریال او پر پاکستان د شتو فشارونو په پام کې نیولو سره به آیا دغه هېواد چمتو شي، چې دغه مهره هم قرباني کړي؟ په داسې حال کې، چې لویدیځوال حقاني شبکه د سولې وړ نه بولي. تېره ورځ د آیساف ملکي استازي په کابل کې هم دا خبره کره کړه، چې دغه شبکه له القاعدې سره تړاو لري او سوله ورسره امکان نه لري او د ناټو په وروستۍ غونډه کې د پاکستان د لوی درستیز اشفاق کیاني او د امریکا د لوی درستیز مایک مولن ترمنځ هم ورته خبره تېره او بېره شوه. په هر حال، دا چې حقاني شبکه د پاکستان د لوبو او سیاست بازیو د ګرم ډګر قرباني شي او که پاتې شي؟ دا هغه پوښتنې دي، چې له شک پرته د حقاني شبکې برخلیک ورسره تړلي او ښايي د څو راتلونکو ورځو بدلونونه به دغو پوښتنو ته ښکاره او کره ځواب وړاندې کړي.

د نورستان والي:

په پولیسو کې مو د طالبانو پلویان شته

د نورستان نوی ګمارل شوی والي تمیم نورستانی وايي په ولایت کې یې ځکه امنیت خراب شوی، چې د پولیسو په لیکو کې نامناسب کسان او د طالبانو پلویان ځای پر ځای شوي دي او دی هڅه کوي چې ټولې اړوندې ادارې له اداري فساد کوونکو او نورو بې مسوولیته کسانو څخه پاکې کړي.

تمیم نورستاني وړمه ورځ په پارون کې په خپله لومړۍ غونډه کې خلکو ته وویل په نورستان کې چې د هرې ورځې په تېرېدو امنیت خراب شوی، لامل یې په پولیسو کې د نظم نشتوالی او طالبانو سره د یو شمېر کسانو اړیکې درلودل دي: (باید د پولیسو لیکې تصفیه کړو، څوک چې نورستان ته د جېبونو د ډکولو لپاره راغلي دي نور یې دلته ځای نه شته او باید لرې کړای شي او یوازې د یو چا په بدلولو او له یو ځای څخه یو د خاین بل ځای ته په لېږلو باندې ستونزه نه حل کېږي).

تمیم نورستاني وویل هغه څوک چې د زده کوونکو له پیسو او د سرتیرو له پیسو او خوراک څخه روپۍ وهي، یا پرې په کابل او نورو ولایتونو کې ودانۍ جوړوي، یا یې وکیلانو، سناتورانو او نورو کسانو ته د دې لپاره ورکوي چې په یو ځای کې یې ملاتړ وکړي او پر څوکۍ د یو څو ورځو لپاره پاتې شي همدوی خاینان دي.

هغه ګواښ وکړ که چېرې له دغه ډول خایینانو څخه هرچا ملاتړ وکړ په راتلونکې شورا کې به د هر یو تن نوم واخلم، چې پلانی مولوي صاحب، پلانی وکیل صاحب، پلانی حاجي صاحب او پلانی سناتور له پلاني خاین څخه ملاتړ کړی دی.

تمیم وايي وړمه ورځ یې د ټولو ولسوالیو څارنوالان راغوښتي او ورته یې ویلي یې دي چې د نورستان اړوند ټول ریاستونه دې وګوري دهغوی چارې دې وڅېړي چې چا څومره او څه ډول کارونه ترسره کړي چې هرڅوک د پلټنو او څېړنو پرمهال ملامت شو هغه سره به پوره حساب کېږي.

ACKU

شرکت مخابراتی افغان بیسیم و شبکه تلویزیونی آریانا

برنامه "کی مـی خواهـد میلیونر شود" و" مسابقه پیام کوتاه میلیونر افغان بیسیم" را به بینندگان تقدیم می کنند

کابل، افغانستان، ۲۰ سپتمبر ۲۰۱۱. افغان بیسیم شرکت مخابراتی پیشگام در افغانستان و شبکه تلویزیونی آریانا یکی از بزرگترین ایستگاه های تلویزیونی افغانستان با اشتراک یکدیگر محبوب ترین مسابقه تلویزیونی دنیا "کی می خواهد میلیونر شود" را همراه با "مسابقه پیام کوتاه میلیونر افغان بیسیم" به بینندگان تقدیم می کنند تا یک تیم تلویزیونی-مخابراتی منحصر به فرد را بسازند.

همکاری بین شرکت افغان بیسیم و تلویزیون آریانا در نوع خود اولین می باشد. هر قسمت برنامه "کی می خواهد میلیونر شود" شامل یک مسابقه ۳ بخشی "پیام کوتاه میلیونر افغان بیسیم" می باشدکه در آن یک سوال برای بینندگان ارائه می شود. هر کسی که یک تلفنهمراه داشته باشد می تواند از طریق ارسال یک کود، با پیام کوتاه، به سؤال شبانه میزبان برنامه "کی می خواهد میلیونر شود" پاسخ دهد و اولین پاسخ صحیح بعنوان برنده مسابقه پیام کوتاه میلیونر افغان بیسیم در آن شب اعلام میشود!

تمامی پاسخ دهندگانی که پاسخ صحیحی ارائه کنند یک پیام کوتاه تبریکی از شرکت افغان بیسیم دریافت می کنند که همراه با یک دعوتنامه برای شرکت در برنامه زنده "کی می خواهد میلیونر شود" بعنوان تماشاچی و کوشش برای کسب عنوان "میلیونر بعدی" افغانستان میباشد! هر برنده شبانه مسابقه پیام کوتاه میلیونر افغان بیسیم یک کارت هدیه ۱۰۰ دالری و یک تلفن رایگان افغان بیسیم دریافت می کند.

محترم امین رامین، رئیس شرکت افغان بیسیم با ابراز نظر در مورد موفقیت این ابتکار، گفت: برنامه "کی می خواهد میلیونر شود" و "مسابقه پیام کوتاه میلیونر افغان بیسیم" نظر مشتریان و در کل تمام مردم ما را به خود جلب نموده است. مرتبط ساختن مستقیم مشتریان موبایلی افغان بیسیم بعنوان اشتراک کننده در یک مسابقه تلویزیونی زنده شبانه، قابلیت های زیادی را به تمام مشتریان مان از طریق تلفن های همراهشان فراهم می نماید. شرکت افغان بیسیم می تواند به تمام علاقمندان کمک کند تا از طریق تلفن های همراه در این برنامه شرکت کنند.

برنامه کی می خواهد میلیونر شود از شنبه الی سه شنبه از ساعت ۸:۳۰ الی ۹:۰۰ شب از شبکه آریانا نشر میشود.

درباره افغان بیسیم- شرکت افغان بیسیم که دفتر مرکزی آن در کابل است به حدود ۴ میلیون مشترک در سرتاسر افغانستان خدمات عرضه می نماید؛ همچنین این شرکت با استخدام بیش از ۴۵۰۰ نفر بطور مستقیم و ۵۰ هزار نفر دیگر بطور غیر مستقیم، یکی از بزرگترین کارآفرینان افغانستان است. شرکت افغان بیسیم در ارائه خدمات ارتباطی بیسیم و باند پهن (برودباند) برای مشتریان مسکونی و تجاری پیشگام است. اطلاعات بیشتر در وبسایت شرکت به آدرس www.afghan-wireless.com موجود است.

درباره رادیو و تلویزیون آریانا- شبکه تلویزیونی آریانا که توسط محترم احسان الله بیات تاسیس شده است در ۳۳ ولایت افغانستان و همچنین از طریق ماهواره و انترنت در سطح بین المللی نشرات دارد. این شبکه، بسیاری از پرطرفدارترین برنامه های افغانستان از جمله اخبار آریانا و ۵۹ دقیقه را نشر می کند. اطلاعات بیشتر در وبسایت این شبکه به آدرس www.arianatelevision.com موجود است.

جهت معلومات بیشتر درباره اینکه چگونه می توانید در برنامه "کی می خواهد میلیونر شود" یک تمویل کننده تبلیغاتی باشید با محترم محمد رمضان به شماره ۰۷۰۰۸۰۱۸۴۶

یا ایمیل آدرس mark.davis@afghan-wireless.com تماس بگیرید.

آیا رییس جمهور از واشنگتن با ...

منطقه و جهان سخنرانی نموده، بر همکاری بیشتر جهانیان جهت حل مشکلات افغانستان و منطقه تاکید خواهد کرد.

همینگونه رییس جمهور کرزی در حاشیهٔ اجلاس مجمع عمومی سازمان ملل متحد با بارک اوباما همتای امریکایی اش، دیوید کامرون صدراعظم بریتانیا، اندرس فوگ راسموسن سرمنشی سازمان ناتو، بانکی مون منشی عمومی سازمان ملل متحد و گویده ویستر ویله وزیرخارجهٔ آلمان، به طور جداگانه ملاقات و گفتگو خواهد نمود.

وی با یوشی هیکو نودا صدراعظم جاپان، روزا اوتنبایوا رییس جمهور قرغیزستان، داکتر وحید معاون رییس جمهور مالدیف، محمود احمدی نژاد رییس جمهور ایران، رجب طیب اردوغان صدراعظم ترکیه و شماری از مقام های دیگر کشورها نیز، صحبت خواهد کرد.

اعلامیه می افزاید که در این دیدارها در مورد همکاری مشترک بر ضد تروریزم، برقراری صلح و گسترش روابط سیاسی، اقتصادی و فرهنگی دوجانبه بحث و گفتگو صورت می گیرد.

قابل ذکراست که رییس جمهور کرزی روز جمعهٔ آینده در شورای روابط خارجی امریکا که یک موسسهٔ مهم مطالعاتی آن کشور در مورد مناسبات بین المللی است، نیز سخنرانی می کند و دیدگاه های افغانستان را در مورد راه های موثر مبارزه با تروریزم و تامین صلح در افغانستان و منطقه، بیان خواهد کرد.

بین رودز معاون مشاور امنیت ملی امریکا، روز جمعهٔ گذشته در واشنگتن گفته بود که قرار است، حامد کرزی با بارک اوباما در نیویارک، پیرامون پیمان استراتیژیک و روابط میان دو کشور ملاقات نماید.

به گفتهٔ وی، بعد از آنکه اوباما در اوایل سال روان میلادی، پلان خود را در مورد خروج نیروهای امریکایی از افغانستان و سپردن امور امنیتی به نیروهای افغان اعلام نمود؛ این نخستین ملاقات میان آنها خواهد بود.

رییس جمهور کرزی را در سفر به امریکا داکتر زلمی رسول وزیرامورخارجه، داکتر رنگین دادفرسپنتا مشاور امنیت ملی، داکتر اشرف غنی احمدزی مشاور ارشد رییس جمهور، جاوید لودین معین سیاسی وزارت امورخارجه و عبدالکریم خُرم رئیس دفتر ریاست جمهوری همراهی می کنند.



د ناټو ځواکونو له خوا د شپې ...

مور مې پرې غبرګ کړ، چې دزو مه کوئ، ولې مـوولئ اې ظالمانو."

بلخوا په کابل کې د ایساف ځواکونو وياند کارستن جيکوبسن خبرياالنو ته وويل، چې د ياد شوي راپور په سپارښتنو غور کيږي، خو هغه د شپې عمليات ګټور وبلل: "له نوي فيصدو نه په ډيرو د شپې عملياتو کې افغان ځواکونه برخه لري، په پنځه اتيا فيصدو د شپې عملياتو کې حتا يو ډز هم نه کيږي او په پنځوس فيصده دغو عملياتو کې مطلوب کس وهل کيږي، نيول کيږي او يا هم وژل کيږي."

که له يوې خوا نړيوال ځواکونه د شپې عمليات ګټور او مهم بولي، د تيرو څو کلونو راهيسې افغان دولت په اکثرو مواردو کې له دغو عملياتو سره مخالفت ښودلی دی.

د ازادي راډيو د راپور له مخې، افغان چارواکي وايي، د خلکو د کورونو د تالاشۍ او په خپل سر د کسانو د نيولو په بشپړه توګه مخنيوی يې له امريکا سره د ستراتيژيکو همکاريو د سند په اړه هم له لويو غوښتنو څخه دي، چې تراوسه پورې امريکايي چارواکو ورسره موافقه نه ده ښودلې.

د ناټو د ۲۸ غړو هېوادونو د دفاع وزيرانو د افغانستان په اړه غونډه وکړه

ناټو د ۲۸ غړو هېوادونو د دفاع وزيرانو او پوځي چارواکو په هسپانيا کې دوه ورځنۍ غونډه ترسره کړه، چې د هسپانيا د دفاع وزير يې کوربه و.

دغه کنفرانس د افغانستان پر اوسني وضعيت متمرکز و، له دافغانستان څخه د بهرنيو ځواکونو د وتلو مسئله، افغان ځواکونو ته د امنيتي مسووليتونو د انتقال بهير او په عربي هېوادونو د پاڅونونو موضوع په کې وڅېړل شوه.

په کنفرانس کې پر دې خبرې وشوې، چې افغان ځواکونو ته د امنيتي مسووليتونو تر انتقال وروسته ناټو په افغانستان کې څه رول درلودلای شي. دا کنفرانس په داسې حال کې جوړېږي چې په افغانستان کې په تېرو لسو کلونو کې تر بل هر وخت ناامني او د بهرنيو ځواکونو تلفات زيات شوي دي.

د يادونې وړ ده چې په دې غونډه کې د افغانستان په مسئله کې د پاکستان سياست او پاليسۍ په باب هم يو لړ خرګندونې وشوې. پر دغه هېواد انتقاد هم وشو، چې دوه مخې سياست پرمخ بيايي او له امريکا سره د ترورېزم پر وړاندې مبارزه کې صداقت نه لري.

ACKU

د ناټو د رېبو سرتېرو خپل ژوند له لاسه ورکړ

ناټو وړمه ورځ وویل، درې سرتیري یې په افغانستان کې په جلا پېښو کې وژل شوي او د دې هیواد په جنوب کې د مخدره موادو د تولید پریوه لوی لابراطوار د افغان او نړیوالو ځواکونو په ګډو عملیاتو کې ترلسوزیات وسلوال وژل شوي دي.

ناټو په یوه بیان کې وویل، یو سرتیری یې د شنبې پر ورځ د وسلوالو په حمله کې او دوه نور وړمه ورځ په بم چاودنه کې وژل شوي.

ناټو یوازې دومره ویلي، چې درې واړه سرتیري په جنوب کې وژل شوي، او نور یې په دې اړه جزیات نه دي ورکړي.

له دغو وژنو سره په روانه میاشت کې په افغانستان کې بهرنیو سرتیرو ته د تلفاتو شمېر ۲۴ تنو ته ورسېد. په دې سره د روان کال راهیسې د وژل شویو بهرنیو سرتیروشمیر ۴۲۹ تنو ته رسي.

ناټو دغه راز ویلي، چې افغان او نړیوالو ځواکونو د شنبې پر ورځ د هلمند ولایت په باغران ولسوالۍ کې د هیروینو د تولید پریوې فابریکې عملیات ترسره کړل، ترلسو زیات وسلوال یې ووژل او فابریکه یې هم ویجاړه کړه.

ناټو دا په تیرو پنځو کلونو کې په افغانستان کې د هیروینو د تولید تر ټولو لوی لابراطوار بللی، چې د دوی په وینا له ګټې یې د دولت وسلوالو مخالفانو د خپلو حملو د تمویل لپاره کار اخیست.

چرا سفارت عربستان سعودی در کابل مسدود شد؟

در حالی که هزاران حاجی افغان طی چند روز آینده به خاطر انجام فریضهٔ حج رهسپار عربستان می شود، گزارش هایی مبنی بر مسدود شدن سفارت عربستان در کابل وجود دارد. این سفارت که پس از حملات مسلحانه و انتحاری در چهار راهی عبدالحق در شهر کابل مسدود شده، مشکلات ویزه را برای عازمان حج به بار آورده است.

شش مهاجم، روز سه شنبهٔ گذشته۲۲ سنبله با استفاده از یک تعمیر نیمه کاره در چهارراهی عبدالحق در شهرکابل، سفارت امریکا، قوماندانی عمومی نیروهای آیساف، دفاتر ریاست امنیت ملی و یک تعداد تاسیسات دولتی را هدف حملات راکتی قراردادند.

همزمان با این حمله، سه حملهٔ انتحاری در مناطق مختلف شهر کابل صورت گرفت.

در این حملات مسلحانه و انتحاری که برای ۲۰ ساعت دوام کرد و طالبان مسوولیت آنرا به دوش گرفتند، شش تن کشته و ۳۳ تن مجروح گردیدند که بیشترین آنها را افراد ملکی تشکیل می دادند.

در نزدیک تعمیر نیمه کاره یی که عاملان انتحاری از آن به خاطر انجام حمله بر اهداف یادشده استفاده کردند، سفارت عربستان سعودی نیز، موقعیت دارد.

به گزارش خبرگزاری پژواک، این سفارت از چند روز به اینسو بسته شده، سفیر و کارمندان سفارت با آغاز حملات "روز سه شنبه" در یک طیارهٔ مخصوص به کشور شان رفته اند و تا هنوز نیامده اند.

باید گفت که سفارت سعودی در حالی مسدود می شود که امسال ۳۰ هزار تن از افغانستان، جهت حج بیت الله شریف، عازم عربستان سعودی می شوند، حالانکه کمتر از دو ماه به عید قربان و مراسم حج باقی مانده، عازمین حج با مشکل مواجه اند.

داعی الحق "عابد" معین اداری و مالی وزارت ارشاد حج و اوقاف گفت: "فورم نه هزار تن نزد ما آماده برای ویزه است و ما تشویش داریم که اگر سفارت سعودی باز نشود و ویزه ندهد، پروسهٔ حج دچار مشکل خواهد شد".

وی افزود که بر اساس برنامه، آنان تا کنون باید ۱۵ هزار ویزه را از سفارت سعودی برای عازمین حج دریافت می کردند.

فرامرز "تمنا" معاون سخنگوی وزارت امور خارجه در این مورد می گوید که کارمندان سفارت عربستان در هنگام حملات هفتهٔ گذشته به وزارت خارجه اطلاع داده بودند که برای حفظ جان شان در جای امن خواهند رفت، اما سفارت تا کنون، فعالیتش را دوباره آغاز نکرده است.

وی می گوید که وزارت خارجه با سفارت افغانستان در عربستان سعودی و مقام های دولتی سعودی برای آغاز دوبارهٔ کار سفارت عربستان در کابل در ارتباط هستند، تا به زودی این سفارت فعالیت خود را آغاز نماید.

ACKU

معیار های بین المللی حقوق بشر برای تطبیق قوانین
تامین نظم و ا منیت در دیموکراسی: هر کس خق دارد درامور دولتی کشور خویش مستقیماً یااز طریق نماینده گانی که آزادانه انتخاب شده،سهم بگیرد.
این پیام از طرف کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان تقدیم گردید

اراده ورځپانه یوازې د سرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپانه یې مسوولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک:
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشرات افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: خادم احمد
موبایل: ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون: استاد مرتضی فرحتیار
موبایل: ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پښتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل: ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین: انجنیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل:
erada.daily@yahoo.com
آدرس: دهمزنګ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire:
Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema, first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com